Deputy PM for Economic Affairs Office
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دویم کال - ۲۷مه ګڼه | پرله‌پسې ۴۱مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۴/۷/۲۳



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د افغانستان او هند ترمنځ د سوداګرۍ پراختیا له پاره هڅې

۲- د انرژۍ اوونۍ نړیوال فورم کې د اوبو او برېښنا وزیر ګډون

۳- د ټاپي پروژې چټک پرمختګ

# د افغانستان او هند ترمنځ د سوداګرۍ پراختیا له پاره هڅې



د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي په شپږ ورځني رسمي سفر هند ته تللی دی. هغه سره په دغه سفر کې د صنعت او سوداګرۍ وزارت مرستیال مولوی احمدالله زاهد هم مل دی. مولوي احمدالله زاهد د هند د صنعت او سوداګرۍ له وزیر جیتین پرساد سره لیدلي او دواړو لورو هوکړه کړې چې د افغانستان او هند ترمنځ به د ګډې سواګرۍ یوه کمېټه جوړوي. دغه کمېټه به وخت پر وخت د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګریزو مسایلو په اړه خبرې کوي.

هند ته د بهرنیو چارو وزیر سفر له ګڼو لاسته راوړنو ډک دی چې اقتصادي اړخ یې هم ډېر روښانه دی. هند د افغانستان مهم سوداګریز شریک دی او هر کال د دواړو هېوادونو ترمنځ ډېره سوداګري کېږي.

سره له دې چې د افغانستان او هند ترمنځ مستقیمه سوداګري نه کېږي او د یو درېیم هېواد له لارې ترسره کېږي، خو اکثره وختونه دغه لاره کې افغان سوداګرو ته ستونزې ایجادېږي او د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګریزې اړیکې، هغه ډول چې په کار دي، نه ټینګېږي. په دې اساس د دواړو هېوادونو ترمنځ د یادې کمېټې جوړېدل به د افغانستان او هند ترمنځ د سوداګرۍ پراختیا او بدیلو لارو جوړېدو ته لاره اواره کړي چې یوه ممکنه بدیله لاره یې هوایي دهلېز کېدلی شي. د افغانستان اسلامي امارت په دې غور کوي چې څه ډول د افغانستان وچې او تازه مېوې او نور محصولات نورو هېوادونو ته په اسانه او له خنډ خلاصو لارو ورسوي. په دې اړه یو غوراوی د کارګو الوتکو اخیستل دي، چې ژر به یې په اړه اقدام وشي او د هند په ګډون به نورو هېوادونو ته د افغانستان محصولات او تولیدات ولېږدوي.

# د انرژۍ اوونۍ نړیوال فورم کې د اوبو او برېښنا وزیر ګډون

د روسیې په پلازمېنه مسکو کې د انرژۍ اوونۍ دوه ورځنی نړیوال فورم جوړشوی و چې د نړۍ له مختلفو هېوادونو څخه په کې سیاستوالو، سوداګرو او د نورو طبقو



استازو ګډون کړی و. د فورم یوه موخه د انرژۍ سکټور کې د ننګونو بحث و.

له افغانستان څخه د اوبو او انرژۍ وزیر ملا عبدالطیف منصور ګډون کړی و. د مسوولینو په وینا، د اوبو او انرژۍ وزیر په دغه فورم کې د متقابلو همکاریو په پراختیا او د افغانستان د انرژۍ سکټور کې د افغانستان ورتیاوې ګډونوالو ته معرفي کړې. دا سفر د افغانستان د انرژۍ سکټور کې د پانګونې د جلب او جذب له پاره ډېر مهم دی. دا یو ښه فرصت دی، څو د نړۍ له مختلفو هېوادونو څخه راغلو سوداګرو او پانګوالو ته د انرژۍ سکټور کې فرصتونه څرګند او د هغوی توجه جلب شي.

افغانستان کې په بادي، اوبيزه او لمريزه برېښنا کې د پانګونې ګڼ فرصتونه شته او نړۍ کولی شي چې له دې فرصتونو څخه استفاده وکړي.

افغانستان کې په تېرو څلورو کلونو کې د برېښنا سکټور کې ډېره بهرنۍ پانګونه جذب شوې او اوسمهال په مختلفو ولايتونو کې د برېښنا لويې او کوچنۍ پروژې تر کار لاندې دي.

# د ټاپي پروژې چټک پرمختګ

د هېواد د کانونو او پټروليم وزير ملا هدايت الله بدري هرات ولايت ته په خپل سفر کې د ټاپي (ترکمنستان، افغانستان، پاکستان، هند) د ګازو د يوې مهمې سيمه ييزې پروژې له کاري پرمختګ څخه ليدنه کړې ده. د ترکمنستان د بهرنيو چارو وزير رشيد مردوف هم له يو پلاوي سره هرات ته ورغلی و او د پروژې عملي چارې يې له نږدې ليدلې دي. امارتي مسوولينو ويلي، تر اوسه د ګازو د انتقال د دې مهمې پروژې ۱۰۰ کيلومتره سروې بشپړه شوې ده، چې له دې څخه ۷۰ کيلومتره سړک د نلليکې غځولو له پاره برابر دی. تر اوسه شاوخوا ۱۴ کيلومتره نلليکه غځول شوې او د نورې عملي چارې روانې دي. ټاپي پروژه د افغانستان او سيمې د هېوادونو له پاره مهمه پروژه ده. په ترکمنستان کې د دغې پروژې چارې بشپړې شوې وې، خو د اسلامي امارت له راتګ وروسته يې په افغانستان کې عملي چارې پيل شوې، چې په لومړي پړاو کې به يې تر هرات ښار پورې نلليکه وغځېږي او د هرات ښاريان به يې له ګاز څخه استفاده وکړي.

